AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین
۲۰۲۶/۰۵/۱۴

# دومره په لوړه کچه جنایات؟

## (د جفري اپستین په هکله راټول شوي معلومات)

جفري اپستين قضيه د امريکا په معاصر تاريخ کې د جنسي فساد او قضايي رسوايې له تر ټولو لويو دوسيو څخه ګڼل کېږي. دا دوسيه ښيي چې څنګه شتمني، قدرت او سياسي اړيکې کولی شي د اوږدې مودې له پاره عدالت وځنډوي.
اپستين څوک و؟

ويل کېږي چې جفري اپستين د ۱۹۷۰مو کلونو په پيل کې په نيوپارک کې په يوه خصوصي ښوونځي کې د ښوونکي په توګه کار پيل کړ، خو ډېر ژر او په مشکوکه توګه د والستريټ د پانګې نړۍ ته داخل شو. په لږ وخت کې هغه ډېر ستر شتمن شو، حال دا چې د ده د پيسو اصلي سرچينه تل تر پوښتنې لاندې پاتې شوې وه.

### د څواکمنو کسانو سره يې اړيکې:

اپستين ورو ورو د نړۍ له ډېرو بانفوذه کسانو سره اړيکې جوړې کړې، له سياستوالو او ميلياردرانو څخه نيولې تر مشهورو نړيوالو څېرو پورې، هغه د خيريه فعاليتونو، مېلمستياوو او ټولنيزو اړيکو له لارې ځان ته يو درونډ او محترم تصوير جوړ کړی و، خو په حقيقت کې يې د جنسي استثمار او قاچاق يوه توره شبکه چلوله او د کم عمره نجونو د جذبولو له لارې يې ترې ناوړه ګټه اخيستله.

د محکمې د اسنادو له مخې، اپستين او د هغه نږدې همکاره ګيسلين ماکسويل اکثره نجوني له بېوزلو او زيانمنو کورنيو څخه جذبولې. د دوی پروګرام داسې و، چې قربانيانې مجبورېدې نورې نجونې هم معرفي کړي، چې دا په خپله يوه خطرناکه او فريبکارانه کړنلاره وه.

### د ۲۰۰۷ کال جنجالي قضايي تړون:

سره له دې چې ډېر درانه شواهد موجود وو، اپستين په ۲۰۰۷ کال کې يو ډېر بحث برانګيز قضايي تړون ترلاسه کړ او يوازې ورته يوه سپکه سزا ورکړل شوه، چې دا د امريکا په قضايي سيستم کې د شتمنو او زورورو د نفوذ يوه ښکاره بېلګه ګڼل کېږي.

### د اپستين بيا نيول کېدل او مشکوک مرګ:

اپستين په ۲۰۱۹ کال کې د کم عمره کسانو د جنسي قاچاق په تور بيا ونيول شو، خو څو اوونۍ وروسته هغه په زندان کې مړ وموندل شو، چې د هغه مرګ د امنيتي ناکاميو له امله تر ننه پورې خورا پوښتني راپورته کوي چې (د کامرو خرابېدل، د ساتونکو بېپروايي، او د راپورونو تضادونه)

### اسناد او دوامداره افشاګري:

په وروستيو کلونو کې د اپستين د قضيې ځينې اسناد خپاره شوي، خو د قربانيانو د هويت د خوندي ساتلو له پاره ډېر معلومات اوس لا هم پټ ساتل کېږي، چې دا دوسيه لا هم د فساد، د قدرت ناوړه استعمال او د نړيوالې بېعدالتۍ يو مهم سمبول ورته ويلای شو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## د دې قضيې اصلي پيغام:

د اپستين قضيه ښيي چې جرم يوازې د بېوزلو په کوڅو کې نه وي، بلکې کله ناکله د نړۍ د ځواکمنو او شتمنو تر ټولو لوړو پوړونو کې پټ وي.حقيقي عدالت هغه وخت رامنځته کېږي چې قربانيان هېر نه شي او يا هم حقيقت د سياست او شايعاتو قرباني نه شي.

## جفري اپستين او هغه رازونه چې وجدان لړزوي:

ځيني موضوعات داسې وي چې انسان يې يوازې د لوستلو توان نه لري، بلکې بدن يې يخ شي، زړه يې درون شي او ذهن يې د پوښتنو په تياڕو کې ورک شي. د جفري اپستين قضيه له همدغو موضوعاتو څخه ده، داسې دوسيه چې د واک، پيسو او نفوذ تر ټولو بدرنګه څېره رابرسېره کوي.

جفري اپستين يوازې يو نوم نه و، بلکې يو داسې سيورى و چې د نړۍ پر ډېرو واکدارو څېرو خپور شوى و. د امريکا( FBI )ادارې ويلي چې د ده د اسنادو، اړيکو او شواهدو د لوستلو له پاره يې زرګونه کاري ساعته مصرف کړي دي، دا پخپله ښيي چې موضوع څومره درنه، پېچلې او خطرناکه ده.

اپستين چې تر ټولو زيات د ټرمپ څنګ ته ولاړ وي، يوه ځانګړې شخصي جزيره يې لرله، داسې ځاى چې د معصومو ماشومانو د حقونو تر ټولو سپک او ظالمانه سرغړونې پکې شوې دي. دا تورونه يوازې جرم نه، بلکې د انسانيت پر وړاندې ټکان ورکوونکى بريد ګڼل کېږي. حتا د ماشومانو د بدن غړي پکې پخېدل، پاچاخېل او پيسه داره خلک به ورتلل، تجاوز، وژنې او د دنيا غلط کارونه پکې روا وو. کله چې انسان دا هر څه لولي، يوازې يوه پوښتنه يې ذهن ته راځي:

هغه دا چې، څنګه انسانيت داسې حد ته رسېږي؟ او ولې وجدانونه چپ پاتې او يا مړه شي؟

دغه انسان ته د کعبې د غلاف تحفه هم د وخت د پاچا په لاس لېږل شوى. د دوبۍ امير هم د دغې قضيې يوه برخه ده.

په اسنادو، انځورونو او راپورونو کې د نړۍ د مشهورو سياسي څېرو نومونه راڅرګندېږي. د مايکل جکسن د وژنې قضيه او په عوض يې بل هم شکله جوړول، ډونالډ ټرمپ، بل کلنټن او نور هغه کسان دي چې نومونه يې د دې قضيې په څنډو کې ياد شوي. د اپستين په پاسپورت کې د هر هېواد ويزه ازاده لګېدله، که څه هم يوازې د دغو نومونو شتون پخپله د نړۍ پر عدالت، سياست او اخلاقو لويه پوښتنه راپورته کوي.

دا قضيه انسان دې ته اړ باسي چې پر هر څه له سره فکر وکړي چې:

ايا واک د وجدان ځاى نيولى؟ايا د پيسو زور کولى شي حقيقت پټ کړي؟او ايا ځيني رازونه شته چې نړۍ يې د منلو توان نه لري؟

په ۲۰۰۹ م کال کې يوه مکسيکنې نجلۍ ګبريلا ترې تښتي، بهر پر سړک رازونه افشا کوي، خو د لېونۍ په ګومان چا پرې سر نه دى ګرولى، له همغه وخته نور ترې تم شوى. وروستي راپورونه وايي چې پخوانى ولسمشر بل کلنټن او پخوانۍ د بهرنيو چارو وزيره هيلري کلنټن د کانګرس د څارنې کمېټې ته د حاضرېدو چمتووالى ښودلى. دا ګام وروسته له هغه پورته شو چې د کانګرس غړو د قانوني تورونو ګواښ وکړ. خو پوښتنه دا ده: ايا دا به د حقيقت دروازې پرانيزي، که يوازې به يو بل فصل هم تياره پاتې شي؟

د جفري اپستين قضيه يوازې د يوه انسان کيسه نه ده، دا د يوې داسې نړۍ هنداره ده چې ځينې وخت پکې ظلم چوپ پاتې کېږي او معصوميت قرباني کېږي. همدا چوپتيا ده چې انسان ته تر ټولو ډېر درد ورکوي.

## اپستين نه څوک خلاص دي؟

د اوس وخت زياتره مشران او لوړپوړي چارواکي رسوا شو، خو يو څو تنه چې نه يې د جيفري اپستين سره کوم انځور، نه ويډيو، نه ايميل او نه هم کومه اړيکه يا سند شتون لري دا څو مشران لکه پوتين، خامنه يې، کيم جون اون، شي جينګ پينګ، رجب طيب اردوغان، د يمن زمرى چارواکى او ځيني نور چې موساد يې په بليک ميل کولو کې پاتې راغلى دي. برعکس هغه چارواکي چې تر اوسه د امريکا د عدليې وزارت د اپستين له اسنادو څخه مونډلي او د ماشومانو په جناياتو کې شريک پېژندل شوي او افشا کړي يې دي ځيني يې په لاندې ډول ښودل کېږي:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

له امریکا نه دونالد ترامپ، ایلان ماسک، مایکل جکسن، بیل گیتس، لئوناردو دیکاپریو، جورج دبلیو بوش، بیل کلینتون، کامرون دیاز، بروس ویلیس، کوین اسپیسی، هاروی واینستین، جفری اپستین، رابرت ایکل بلومبرگ، د انګستان شهزاده اندرو، محمد بن سلمان، محمد بن جاسم، عبد الله بن ذاید، سعد والغیط، خالد بن ال خلیفه، ایهود باراک د اسرائیلو نه، محمود شاه محمود له پاکستان نه او د نړۍ یو شمېر نور مشهور سوداګر او میلونران دي.

ویل کېږي چې په دغو اسنادو کې په زرګونو شواهد،عکسونه او ویدو ګاني شتون لري، چې که په دغو قضایاو کې شاملې مافیایې کړې یې سانسور نه کړي، د دغو ټولو جنایاتو او جنایت کارانو اصلي څېرې او ماهیت به نړیوالو ته بربنډ شي، داسې ویل کېږي چې د ډونالډ ترمپ او نتنیاهو وروستي جنګي جنایتونه له وینزویلا نه پیل بیا تر ایرانه پورې هم د جعفری اپستین د قضیې نه د نړۍ پام بلې خواته اړول دي، ځکه چې ټرامپ په دغه قضیه کې تر بل هر چا زیات ښکیل دي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ